جواب : بلي رباني پیامي به اوفرستاده بود وکناره گیري خویش را درآن به شرط اینکه قدرت به رقیبانش انتقال نیابدوتضمین شود که مخالفین بعداً بالاي کابل حمله نه کنندازآتش بس سؤ استفاده نشودوشوراي بي درکابل تشکیل شود ،پذیرفته بود.به نظرمن که این صرفاً یك بازي سیاسي وفریب بودکه باردیگر سردمداران ادارهٔ ائتلافي میخواست بدان وسیله خودرا ظاهراً ازملامتي ملل متحد وملت افغان برهانند وچنین وانمود کنند که گویا ماصلح مي خواهیم ، ولي هماطوریکه شما اطلاع داریدخیلي زودماهیت این نیرنگ ازآب بدرآمده وجلسات کوه شمشاد واجتماعات آنها واضح ساخت که هیچگونه تعهد وقول وقرارآینها اعتبارنداشته ازهرفرصتي میسر ومکن براي ادامهٔ حکومت ظالمانهٔ سه ناحیه کابل استفاده مي کنند گرچه به قیمت ریختن خون هزارجوان این ملت تمام هم شودآنها باردیگر طرح مردود شوراي مشورتي راولپندي که درآن ٦٠ - ٦٠ نفر ازهر تنظیم و۳۰ - ۳۰ نفر ازولایت سهم داشته باشد؛ را عنوان کردند تابدین ترتیبطرحدیگري دربرابرملل متحد قرارداده وپروسهٔ صلح را چندي دیگربه تعویق اندازند .

ایشان درحالیکه دقیقاً میدانندکه هرطرحٔ دور ازواقعیت هاي عملي جامعه ومملکت باشد نمیتواند دردملت را دواکند وجلو خون ریزي وجنگ رابگیرد بناءً ناکام وغیرقابل قبول است ، بازهم بمنظور حیله وفریب عوام ومجادلهٔ سیاسي نیرنگ هاي خویش را به نام طرح به بازار عرضه میکنند .شوراي هماهنگي درحالیکه صادقانه خواهان صلح وامنیت وتأمین عدالت ونظام اسلامي افغانستان میباشد باآنکه از نگاه سیاسي ونظامي درموقعیت برتر قراردارد ، به تاسي ازپالیسي صلح خواهانهٔ خویش طرح به ملل متحدارائه کرده ودرآن هیچ سهم جناح را نادیده نگرفته است که این بنات خود به ملت میرساند که ما ازجنگ نفرت داریم وجنگ مانه بخاطر قدرت بلکه بخاطر دفاع از حقوق فردفرد ملت (حق تعین سرنوشت) عدالت و نظام اسلامي مي باشد که مجبوراً به آن متوسل شده ایم .

سوال: اخیراً مستیري جلسات کویته را پایان بخشیده به مزارشریف وجلال آباد سفرهاي داشته،پیامداین رفت وآمد هارا چه پیش بیني مي نمائید ؟

جواب : محمودمستیري بمنظور درمیان گذاشتن مشوره هاي که درجلسات کویته بارهبران تنظیم هاداشت سفرهاي داشته اند تاباشد بعدتوافق آنها گام هاي عملي درزمینه تشکیل حکومت مؤقت وانتقال قدرت وختم جنگ وآتش بس بگذاره ،ولي فکرنمیکنم به کدام نتیجهٔ عملي منتج گردد زیرا ادارهٔ ائتلافي عملاً علیه وي فعالیتهاي خودرا آغازنموده واستادسیاف حلیف رباني درجلال آباد پروگرام ملل متحد را شدیداً ردنمود .

سوال : اخیراً لحن رباني درقسمت عدم اشتراك جنرال دوستم درمذاکرات صلح نرم شده آیااین دال برتغیرپالیسي آنهاست ؟

جواب : اگرادب اجازه میداد دراین زمینه صرف میگفتم که شیوهٔ منافقانه جزاین نمیتواند باشد، زیرا رباني نرمي میکند ولي سیاف سختي وشدت .درحالیکه ازهیچکس پنهان نیست که رباني وسیاف بمثابهٔ دورخ یك سکه اند.

سوال : درگذشته رباني وسیاف شوراي قیادي را ردمي کردند،ولي چه باعث شده که اخیراً آنها بازهم درپي تشکیل شوراي قیادي ودعوت رهبران افتاده اند ؟

جواب : شوري قیادي مانندیگروسایل بازیچهٔ سیاست هاي رباني گردیده است درست بیاد داریم که اوچندین مرتبه ختم شوراي قیادي را اعلان کرده واین بخاطري بوده که دیگر ازطریق شوراي قیادي نمیتوانستندبه اهداف دلخواه خویش نایل آیندزیرا شوراي قیادي ماشیني بوده که جام شده اماحالا میشود درهمین مقطع زماني باروسوایي سیاست هاي فریبکارانه ادارهٔ ائتلافي رابران حمل کرد .

دکشمیر مسلمان...

خبریاتوتي چي په تیرو دوو ورځوکي دهندي پوځونو اومسلمانو مبارزینو ترمینځ سختي جګړې شوي دي خوتراوسه پوري دتلفاتوشمیرپوټ نه دي خپورشوي.

دربانی کومی خبری خپلی اوکومی یی دبل په امردی

میاسید رقیب

الله تعالي چي دټولو کائناتو خالق دي دخپلو مخلوقاتو له پاره يي داسي ځانګړي نښي نښاني ، دندي اوصلاحیتونه ورکړي چي دهغه دژوند په کرښلاره کي تر ینه سه اوپوره ګټه اخستل کیدي شي اوهغه يي د ژوند تګلاري اودلاري له پاره په هرډول شرایطو کي په کارورځي.

دا چي الله (ج) انسان ته اشرف المخلوقات ویلي هغه ته يي پرنوروملخوقاتو باندي لوړاوي ورکړي ،عقل ، پوهه اوشعوريي وربښلي له دي امله دي چي دالله (ج) همدا نازولي مخلوق ترينه په عبادت اودهغه دبندګانو له پاره د ښواوغوره کارونو په ترسره کولو کي ستره ګټه واخلي ، آسماني قوانين اودپیغمبرانو علیهم الصلوة دراليږ لوفلسفه هم دالهي پيرزوينو اوښيګنو غوره بېلګه اومثالونه دي .ددي ترڅنګ يي دانسان له پاره دسترګو، غوږونو ، عقل ، شعور اوحافظي ورکړه هم ستره مهرباني ده چي په سترګو حقايق وګوري ، پرغوږونو يي واوري ، دعقل اوپوهي په تلو کي يي وتلي ،قضاوت پري وکړي دعبرت له پاره يي حافظي ته وسپاري.

خو دا هم څرګنده ده چي ځني انسان پر پوسرکش اونافرمانه موجود هم کله کله بدلیدي شي په تیره بیا چي دبوي ټولني عالم ،پوه ، خبیر او آګاه قشرد دنیوي ګټو له پاره خپل دين اودنیا تباه اوبربادکړي اودتل له پاره يو تورواوبدنوم وګڼي ، دنورو انسانانو دقضاوتونو په تلو کي سپك وخيژي اود لوي خداي (ج) د محاسبي له پاره دقیامت په ورځ سپکه وري شي ، یعني داچي هرڅه دخپلو عینکو په رنګ کي ويني دخپلوګټوسره سم يي پخپله ځاني ګټه اړوي آن تردي چي دلوي الله (ج) اودهغه دنازولي پیغمبر(ص) په قول کي تصرف کوي خو دا عمل يي له دوعکس العملونو سره مخامخ کيږي لومړي په دنیا کي دموجودو انسانانو کرکه راپاروي اود راتلونکو انسانانو په قضاوت کي به محکوميږي اوپه اخرت کي دقیامت په ورځ مخټوري اوتیت سترګي راپورته کيږي . له دي حالت څخه ډيره ويره دمسلمانانو له پاره په کارده ځکه چي مسلمان باید دعقيدي له مخي دغه راز نیمګړتیا وټلري اوکه کوم مسلمانانو پردغوصفتونو ومبتدل شي نو هغوي دي پرځان رحم وکړي.

زموږ مجاهد اومسلمان ملت چي اوس په سیاسي لحاظ دتړي دسیاسي اومبارزوي ډګرونو په کاروبارکي نږېوالو ته دبریالیتوب لارښود اوداسلامي جهاد په راژوندي کوونکي حیثیت لري په خان اوجهان پوري ټولي اړوندي چاري څاري ، خپل دوست اودښمن سه پيژني ، سترګي يي کارکوي ، غوږونه يي اوري، په قضاوت کي له چاويره نلري ، حافظه يي بو داسي تاریخ دي چي دهر ډول سرو ،تودو يادګارونه يي خوندي کريدي اودراتلونکو دعبرت له پاره يي په خلاندو ډولونو وړاندي کوي.

خبره مي د استاد رباني – سیاف اومسعوددائتلافي اداري په کړووړو غوښتله خوبه دي ترڅ کي راته په همدي تیره اوني کي داستاد رباني هغه خبري چي دننګرهار دشمشاد سيمي په سمڅوکي يي کړيدي ، دشمشاد دسمڅو او دپغمان - ډکو په سمڅوکي داستاد رباني خبري ډيرتوپیر لري هومره توپیرچي ښايي دشمشاد په سمڅوکي استاد رباني پوخه خپلواکي اوآزادي میندلي وي داځکه چي داخبري يي تربخوانیو بل رنګ لري ،یا خوبي داخبري يي ارادي اودبل له لارښووني پرته دي اویا يي هم پخواني خبري پردي اودبل په اراده وي.

نه پوهیږم چي استاد رباني اوس دشیرپنجشیر!!! سترګي نه ويني اوکه يي عقل سرته ورغلي یا يي داخوورځي دمجاهدینو له څېرنکو ګوزارونو اودخپلو نظاري پربخو له چیغو اوزړاګانو څخه غوږونه آرام شویدي چي لرڅه په سد شوي اوخبري يي بدلي شوي دي ، داچي استاد رباني ولي په تاخايي ډول دخپلو نظاري مشاورینو (سیاف - احمد شاه ، فضلي او ...) سره دیوي بلي دسیس له پاره راغلي داځکه چي داستاد رباني رسم زمان پهلوان احمد شاه مسعود ورته ډادور کاوه چي زه اوته تاریخي مرام ته ورسیدواودکابل دقدرت کلا (جمهوري ارګ) مو ونیو بس غم مه کوه ملك خصاوستاشو.

استاد رباني هم ډير ژر دمسعود عزيز !!! په غورو خبرو وغولید او دجهادي مشرانو نوم اخیست چي ګواکي زه دافغانستان دمسألي دحل له پاره له جهادي مشرانو سره دکتني له پاره راغلي يم .

که تا هغوي ته په درنښت کتلي نو دوي به ولي له خپلو کورونو سره په بهرکي اوسیدل.

د غور ور خبره داده چي ددي خبرو اوکه راتښتیدلي داجبره په څو راتلونکو ورځو ته پريږدو څه چي په ديګ کي وي په کاسه کي به راووځي

خو خبره به داستاد رباني پرخبروکوو . استاد رباني چي کله دپغمان اوډکو له سمڅو (مغارو) څخه سر راکښلي نوبي جهادي مشران ، هغه مشران چي داشپارلس کاله يي د الحاد - کمونیزم اودهغوي دائتلافیونو پر ضد په سراوسال ډبل نه دي په داسي کلماتويادوي چي دروس مزدوروکمونیستانو هم نه دي يادکړي . داستاد راډيو اوټلویزیون خو هغه څه دوروي چي دنړي هيڅ ژورنالستيك اومطبوعاتي اصول ورته اجازه نشي ورکولي.

استاد رباني چي يو څو ورځي (دخلوروميا شتو) له پاره دجمهوري رياست مزه وکتله نو يي خوله لاخوږه شوه دنظارشورا د ډلګي مشر مسعود هم ورته دقهرماني وړون ټپاوه نوده نورهرڅه هيرکړل اولومړي يي پر جهادي مشرانو خوله راخلاصه کړه . دامشران يي له هر ډول جهادي ،اجرائیوي - تاریخي اوسیاسي حیثیت څخه يي برخي وبلل . په ډير سپکاوي به يي "برخوټنه - پنځه ،شپږکسان " ګټل ددایمي قدرت ساتلو له پاره يي مثي اوبایځي راونغاړلي داهل حل وعقد ؟!!! تش په نامه شوراکي چي وروسته ورته زموږ مجاهد ملت د پول نقد شورا ویله په ډير غروراوتکبر سره اعلان وکړ چي د جهادي مشرانو په نامه نور کوم قوت - اداره اویاشوراشته ، هغوي بیخي منحل دي اودوي نورهيڅ راز سیاسي ، اجتماعي ،اقتصادي اونظامي موجوديت نلري . يس دا چي زه د دووکلونو له پاره جمهور رئیس شوم دهغو مکلفيت هم همدومره ؤ چي زه يي دي مقام ته راورسولم ، آن تردي چي تش دخولي مننه اوتشکري هم ترينه ونکړ.

بل ځاي بیا چي کله کومي مرکي یا ویناته وړاندي شوي اویا هم دهرات غونډي ته ورغلي هلته يي بیا زموږ دسترو مجاهدو مشرانو سپکاوي يي کړي په داسي حال کي چي چا ترينه غوښتي هم نه وو چي په دي باب نظر ووايي خو هرځل يي چي د جهادي مشرانو اودقیادي شورا نوم اوريده استاد غريب به دغصي نه ريبده اوداټول جهادي مشران يي دنظارډلګي له څو چرسیانو سره نه برابرول .

خوداځل دننګرهار دشمشاد په سمڅو(مغارو) کي استاد رباني په اعلامیه کي دجهادي مشرانو ددرناوي " يادونه شوي په اعلامیه کي دداسي ټکي راتلل څه خوشي خبره نه ده یاخواستاد رباني اوسیاف دجهادي مشرانو دغولولو له پاره بیا واکارکړيدي اویا خوبي شیرپنجشیر لري لیده . کیداي شي هغه ته به بیا قسمونه وخوري چي پرمایي په زوره لاسلیك کړي اویا داچي داخبره يي ترامضا وروسته ورزیاته کړيده اوکه نه نو استاد رباني "حي - حي خوابازوله به ورځي" که دمسعود عزیز تر قهر لاندي راغلي نو داځل به دي داستاد ساف تذویرونه هم ونشي زغملي.

د پورته خبري دښه جوتوالي اومصداق په توګه ستاسي پام يوي بلي مستندي خبري ته را ګرځوم هغه داچي: هغه وخت چي استاد رباني دپیښور دبدنامي معاهدي سره سم دهیواد دسیاسي قدرت واګي ترلاسه کړي اوخپله کرښلاره يي درادیو ټلویزیون له لیاري خپروله په دي برخه کي يوڅو غوره ټکوته چي په هغوکي داستاد رباني دبي واکي ټولواکي څرګندونه شوي ګوته نیسم . که دهغي کرښلاري ټلویزیوني کست (فیته) راوکښل شي هلته په واګه لیدل کیږي چي استاد رباني په مختلفو لباسونو -مختلفو ځایونو اومختلفو دیکورونو کي راڅرګنديري اوداچي تصويراوآوازيي څومره تخنیکي بدلونونه لري ښايي دا هم دټلویزیون دلیدونکو په يادوي.

اصل قصه داسي ده لومړي ځل استاد رباني په ارګ کي دټلویزیون داويي وان په وسیله پخپل دفترکي خپله کرښلاره ثبت کړه -دچك له پاره يي مسعود هم ورغي ،مسعود عزيز دخپل محترم استاد کرښلاره داسي ایدت اویزي ،یزي کړه چي څه نورتکي يي هم په کي ورزیاتول غوښتل . هغه يي ولیکل اواستاد بیچاره يي دټلویزیون مرکزي ستدیو ته راوغوښت چي په واګه داستاد به لاس او دیکورکي بدلون څرګنديري خواستاد دخپل نظار امر اطاعت وکړ تردي وروسته ددوي دائتلاف کمونیست مشاورین ورغلل اوداستاد په ویناپي لوپي ،پیسخندونه ،پیچموزي ،کتابي اواشاري پیل کړي ، و این جایش کشیده شود - انجایش بریده شود ، این حرفها اضافه شود وآنهم...

ني - ني استاد باید باز بیاید وبیانیه خویشرا دوباره ثبت کند . این نکات براي ماقابل قبول نیست ،،

دا ځل د استاد رباني تریخي هم لرواوتوريده اوداسپکاوي يي ونشو زغملي حاضر نشو چي تلویزیون ته ورشي بیا يي کمري کورته ورولیږلي اوداځل په خپل شخصي اوغیر رسمي لباس کي دکمونیستانو په لارښوونه خپلي نیمګړي وينا اصلاحات کوي اودمسعود عزیز !! اودهغه دپروتوکولي اندیوالانو سپارښتني عملي کوي . که څه هم داخبره بوداسي عیان سند دي چي بیان ته يي کي اړتیا نشته اودا سند هم ښايي دټلویزیون په اسنادو کي وي اوحيتو کسانو هم دټلویزیون له لاري ثبت کړيدي.

له دي يادوني څخه مي داستاد رباني دهغې بې واکي څرګندونه وه چي په ده خوارکي تیرېږي اودشمشاد په سمڅو کي يوځل بیا د جهادي مشرانو دروند نوم اخستل داڅرګندوي چي استاد صاحب څنګه دا جرات وکړ ، مسعود عزیز ورته اجازه ورکړي ، که هغه يي غایب لیدلي ويلي يي دي چي هغه به نه خبريږي که څنګه اوکه بیا به يي دټلویزیون او رادیو په دستګاه ګانو ګرځوي. خواوس وخت له وخته تیردي خلکو اوریدلي خو له خلکوسره داخبره مطرح شويده چي داستاد کومه خبره ومنو. پخواني یعني دجهادي مشرانو سپکاوي يي ارادي اوکلکه خبره وه که اوسني بدلون يي .

که استاد رباني داګومان کوي چي افغان مجاهد ملت دده دپټوسترګو کارنامي نه دي لیدلي دا به بله غلطي وي.

دي دي دخپلو اعمالو محاکمي اوزموږ دمجاهد ملت قضاوت کولو ته چمتو وي اوبیا هم که ځیني مشران دمسعود -سیاف په چل ول غولیدلي وي اودهغوي تیري سپوري سپکي يي هیري کړي وي اوله دوي سره کیني يا بیاتړونونه کوي دابه هم ددي مشرانو هغه غلطي وي چي دوي به " ازموده راباززمودن خطااست "عملي کوي.

موږ دخپلو ټولو جهادي مشرانو حیثیت اوشخصیت ته د درناوي په ترڅ کي هغوي ته وايو چي :

ترڅو يامته دمسعود اوسیاف خبري غلطول نه دي په کار - هرځل په غورو چربو خبرو ، زاريو اوښواتو تذویرونو . درواغو اواوښکوتويولو غولیدل نه دي په کار .مشهوره خبره ده چي ړوند يو ځل همسا ورکوي له ګرګر ادګانو اولړم بچیانو سره تردي کیدل غلطي ده اوداځل به داسي ټك ورکړي چي خداي مه کړه له جهادي وياړنو اوژوند څخه به مو خلاص کړي ، همدا سه وخت دي لکه څنګه مو چي دجهاد په اوږده او ستونزمنه موده کي د افغان مجاهد ملت رهبري کړي ، دروس غونډي سرېخورروژيم مو په تړي کي ختم کړي همدغه شان په افغانستان کي دهغي دبچیانو ائتلافي ټوالګي هم له منځه يوسي دخپل مجاهد ملت آراو ته مراجعه وکړي او پر لوي خداي (ج) په توکل سره ديوه سوچه ، منتخب اسلامي نظام دبنسټ ډېره کيږدي.

دتاجکستان د ...

دهيئتونوسره له خپلوخبرو اترو وروسته په اسلام آباد کي له خبريالانوسره خبري کولي، وويل چي داسي مبکاري

چي دواړه خواوي به تفاهم ته درسيدو له پاره نرم چال چلند وکړي .

خبرزياتوي چي دتاجکستان دخبرواترو دريم پړاو به لس ورځ نوردوام وکړي اودتاجکستان په چاروکي دملګروملتواستازي داهيله څرګنده کړي چي دتاجکستان دخبرواترودريم پړاو چي په اجنداکي دجمهوري رياست دانتخاباتو دکيدو ، داساسي قانون دتدوين ،دمهاجرينو دستنيدواودوسلو دټولولو په څير موارد شامل دي دتيري پنجشنبي نه خپل کارپيل کړي دي .

دنشه يي ...

استعمالول ډيربدګڼو،په همدي خاطردي چي دمهاجرينو په کمپونوکي هيڅ مهاجر نشي کولي مخدره مواد استعمال کړي.

حاجي داود زياته کړه داپه موږ فرض دي چي ددي وږونکو شيانو داستعمال نه ته پراځې ځان وژغوروپلکه دادهرمسلمان وظيفه ده چي نوروته هم ددي لارښودنه وکړي چي په دي بد عمل ځانونه اخته نکړي .

دحاجي داود دخبروورسته يوبهرني ميلمه چي «پرايس » نوميده دمخدره موادو دضررونو په اړوندګټوري خبري وکړي .

ريوټ زياتوي چي دغه سيمينار به دروان کال دلړم دمياشتي تر پنځمې نيټي پوري ادامه لري .

دسيدجمال الدين ...

صاحب غلام دستګير خان فعاله ونډه بې وښايله . وريسي په ننګرهارکي ددغي موسسي دنمايندګي امرسيد اغا هم دموضوع په ارتباط خبري وکړي اوله فارغ شويو شاګردانو څخه يې وغوښتل چي خپل زده کړي مسلکونه پرېنږدي ترڅو دخپل وران ويجاړ هيواد لپاره دخدمت جرګه شي . په آخر کي شاګردانو ته بري ليکونه اودخپل مسلك لومړني ضروري وړشيان تقسيم اوغونډه دماسپښين په يوه بجه پاي ته ورسيده .

حضرت صبغت الله ...

نمود .

محترم صبغت الله مجددي بعداز انجام مراسم فاتحه ، به شهرمتهرلام مرکزولايت لغمان تشريف برده وقبل ازاداي نمازظهر درمسجد جامع اين شهر سخنراني مبسوطي ايراد نمود.

رهبر جبهه نجات ملي افغانستان اظهار داشتند شهيد منصوربه يك فاميل ويك قبيله خاص تعلق نداشته بلکه باتمام مردم بخصوص اهالي لغمان تعلق برادري داشت .

رهبر جبهه نجات ملي افغانستان بعداز اداي نماز ظهر ،نان ظهررا بامسئولين ملکي ونظامي ولايت لغمان صرف نموده سپس عازم ولسوالي سروبي ولايت کابل گرديد .

يك شركت ...

وزن آن به پنجاه الي شصت گرام ميرسد .

درخبرآمده است که بزرگ ترين طلاي کشف شده دررودخانه گورجم درسال۱۹۷۸ (۳۶۲) گرام وزن داشته است .

جنوبي افريقا يو نوي پوځي..

کي وويل چي جنوبي افريقا دمحلي حکومتونو ښې اداره ته لري .

نوموړي وويل ديموکراسي بايد په محلي سويه تقويه شي چي عام خلك وکولاي شي چي دخپلي ټولني په انکشاف کي برخه واخلي .

نصيرالله بابربمعيت سفراي ...

نصيرالله بابرميگويد : روزگذشته باسفراي امريکا ،انگلستان، چين ، ايتالياوکورياي جنوبي ذريعه طياره به هرات رفته وبااسماعيل خان ملاقات نموده وسپس درقندهارباگل آغاوملانقيب نيزديدارداشته ودرمورد اعمار مجدد ولايات مذکورمذاکره نموده است وي مي افزايد : اوسفراي معيتي اش باواليان هرات وقندهار صحبت نمودند .

وي افزود براي اعمار سرک سپين بولدك الي تورغندي مبلغ سه صدمليون دالرضرورت است وبراي اعمارراه قطارآهن اين مسيرمبلغ هشتصد مليون دالرضرورت خواهد بود .علاوه برآن براي ترميم سيستم مخابراتي ولايات هلمند ،قندهار وهرات به بودجه کافي نيازاست .

وي ميگويد : روي همين محلوظ ازتعدادي سفرادعوت به عمل آمد تاازآن مناطق ديدن نمايند وياحکومات خويش جهت کمك به اين ولايات جنگزده درتماس شوندوهمچنان آنها ازنفوذ شان دربانك جهاني وصندوق بين المللي پول نيزاستفاده کرده وبه افغانستان کمك کنند .

نصيرالله بابر ميگويد : آنهاطي اين مسافرت خويش مقداري ادويه امدادي رانيز به اين مناطق انتقال داده وضمناً يك کاروان شامل سي لاري ازطريق سپين بولدك به طرف ولايات قندهار،هلمند،فراه وهرات که شامل مواد غذايي وادويه ميباشد ارسال کرده است که به هريك ازمناطق مذکورچهارچهارلاري اختصاص داده شده است وچهارده لاري ديگر مواد امدادي حامل برنج وادويه به جانب ازبکستان وترکمنستان درحرکت ميباشد وي افزود: برعلاوه اين کمك هاحکومت پاکستان مبلغ پنجاه مليون کلدار راجهت اعمارسرك سپين بولدك الي تورغندي به افغانستان کمك نموده است که بااعماراين شاهراه ، صادرات وواردات اموال، به جمهوريت هاي آسياي مرکزي صورت خواهدگرفت وازجانبي موسسه بين المللي پروگرام موادغذائي نيزکمك خويشرادرزمينه وعده داد .

وي گفت : ماميکوشيم که بين افغانستان ،پاکستان وترکمنستان يك سرك مشترك کشيده شود تاازاين شاهراه هرسه کشوراستفاده مشترك نمايند .

نصيرالله بابرگفت : يك گروپ داکتران پاکستاني درماه نومبربه هرات خواهند رفت تامريضان چشم رادرآن ولايت تداوي نمايند .

وي علاوه کرد که پروازهاي هوائي به قندهاروهرات نيزآغازخواهد شد .

وي درنظرداردبه جلال آباد ، کابل،خوست، گرديز وغزني نيز سفرهاي داشته باشد .

داسلامي نړی ...

داسی دی ، چی کورنی اوبهرنی تشنج پاقشار ورباندی دی . په منوتيزو ادارو پاموسسو کی داولسونو کلتوری ځانګړنی بدلون مومی ، اووده کوی، ديپوستون څرګندونه کيږی ،له خاوری سره دمينی ولولی راپرسيره کيږی ،خو اسلامی مشرتابه ددی اهدافو دترلاسه کولو لپاره هيڅ نه دی کړی داوخت دا حال دی ، چی دلوړوزده کړو

په برخه کی داسلامی نړی نه ايله په سلوکی شپږ ۲۰ - ۲٤ کلن ځوانان راځي . په داسی حال کی چی په صنعتی هيوادوکی دغه ٪۶ کچه ٪۳۵ اوپه پرمختيايی يادريمه نړی کی ٪۱۱ ده، داوخت دنړی د ټولو هيوادو په هر يوملیون کی اوه زره انجنيران اوساينس پوهان دی . په صنعتی هيوادوکی داشميره ۲۳۸۲٤ ده . خو په دريمه نړی کی ۶۶۹۱ ده اوپه

مسلمانو هيوادوکی بيا متی ۳۵۹۳ ده .يعنی موږ په دی ډګرکی له صنعتی هيوادونه اته واری وروسته يو . په امريکا کی ٪۵۸ په جاپان کی ٪۳۰ ،په برازيل کی ٪۱۲ په هند کی ٪۹ .په چين کی ٪۶ ،په اندونيزيا اوبنګله ديش کی ٪٤،٤ محصلين په لوړو زده کړو بوخت دی . خو په پاکستان کی دغه کچه ايله ٪۲ ده دلوړو زده کړو دسلوالی فيصدی کچه په اته ويشتو اسلامی هيوادو کی داسی ده .

اردن ۳۲ ، لبنان ۲۸ ، سوريه ۱۶ ،کويت ۱۵ ،مصر ۱۵ ، عراق ۱۰ ، سعودی عربستان ۹ ،ترکيه ۶ ،ليبيا ۶ ،المغرب ۶ ،ماليزيا ۵ الجزاير ۵ ،تونس ۵ ،ايران ٤ ، اندونيزيا ٤ ، بنګله ديش ٤ ،ګينی ۳ ، سينيګال ۳ ، سودان ۲ ،پاکستان ۲ ، يمن ۲ ، صوماليا ۱ ،مالی ۱ ، افغانستان ۱ ،موريتانيا ۷ ، ، چاد ۵ ،نايجير ۳ .

داوخت دپخوانی شوروی اتحاد په بيلابيلوهيوادوکی اويا لکه ،امريکا ۳۱ لکه ، ۶۷ زره ،جاپان او يا لکه دری زره ،چين پنځوس لکه ۲۹ زره ، هند ۹ لکه ۹۷ زره ،برازيل شل لکه ۵۱ زره ،اندونيزيا ۹۵ زرو ، بنګله ديش ۲۵ زره اوپاکستان ۱۰ زره انجنيران اوساينس پوهان لری .

په سينګاپورغوندی واړه هيوادکی داشمير ۲۷ زره ، په جنوبی کورياکی ۹٤۱۷۱ اوپه فيليپين کی (۱۰۸۳۷٤۲) دی . داوخت په ټوله اسلامی نړی کی ټول ټال ٤۵۱۳۶ ساينس پوهان اوانجنيران کارکوی . حال داچی په اسرائيلوکی داشمير ۳٤۸۰۰ دی.

دا وخت اسلامی هيوادونه دنړی ترټولو وروسته پاتی اوترټولو جاهل هيوادونه دی. دوی په دی نه پوهيږی چی د نوی نړی په ساينس او تخنيك پوهنه اود بشری وسايلو په ډګرکی څه څه پرمختګونه کيږی دوی په نړيوالو سياليو (مسابقو) کی برخه نه اخلی ، ايادوی په ګانده (آينده) کی هم همدا دريځ تينګول غواړی.

انفجاريکه...

آنعده يهودهاي متعصبي که قصددارند تحرك نظامي مسلمانان را درمناطق اشغالي خاموش نموده مالك مادام العمرفلسطين وبيت المقدس باشند .

جنبش اسلامي (حماس) که آزادي بيت المقدس و مبارزه مسلحانه دربرابر يهودهارابه عنوان نصب العين قبول کرده وازمدت هفت سال به اينطرف درخطرناك ترين شرايط ازمبارزه وجهادمسلحانه دست نکشيده ،عقيده دارد که فلسطين وبويژه بيت المقدس به مسلمانان تعلق داشته وبه هروسيله که باشد بايست ازتسلط نارواي يهودهاآزاد ساخته شود .

حماس درآغازيك بخش ازتنظيم آزادي بخش فلسطين بود وتحت رهنمايي ابوجهادو...که ازتونس مقاومت مسلحانه برضد يهود هارا رهبري مينمود فعاليت ميکرد ولي زمانيکه عرفات ورفقايش ازمبارزه مسلحانه دست کشيدند وراه تفاهم وسازش بااسرائيل را پيشه کردند سپاهيان مجاهد طرفدارحماس به سرکردگي شيخ محمد ياسين که فعلاً درزندان رژيم صهيونستي بسرميبرد پهلوي عرفات را ترك گفته وبه ادامه مبارزات مسلحانه شان متعهدوپابرجاباقي ماندندکه اينك هفت سال است باقبول رنجهاومصائب بيشمار هنوز شعار آزادي قدس شريف وتشکيل حکومت اسلامي درفلسطين را زمزمه ميکنند .

گروه اسلامي حماس که اکثر اعضاي آنرا افراد روشن وتحصيلکرده تشکيل ميدهد بعداز دستگيري رهبر شان (شيخ محمدياسين) به يك سازمان زيرزميني تبديل شده فعاليت هاي مسلحانه شانرابرضدرژيم صهيونستي درشکل گروپ هاي کوچك دوسه نفري که کشف آنهابراي شبکه استخباراتي رژيم مقدورنباشدانجام ميدهند .

علي الرغم آنکه سازمان آزادي بخش فلسطين ازنظر سياسي صاحب وجاهت ونام ونشان گرديده ورسانه هاي خبري دنيا دربزرگ جلوه دادن آن اعتراف مينمايند اما حقيقت آنست که به اثر رشادتهاوفداکاري هاي مبارزين مسلمان طرفدار جنبش اسلامي حماس که عرصه زندگي رابراي صهيونستهاتنگ کرده اند رژيم رابين آماده گرديد تاباعرفات به عنوان نماينده فلسطيني ها ! راه گفتگو ومذاکره رابازنمايد ورنه همه ميدانند ومطلع

اندکه تاقبل ازشدت گرفتن حملات نظامي حماس بالاي پايگاهاي رژيم صهيونستي ،يهودها عرفات را برسميت نشناخته وحاضرنبودند که باوي مذاکره وگفتگو نمايند .

کنارآمدن ياسرعرفات بااسرائيل وامضاي معاهده ننگين صلح درآگست ۱۹۹۳ تحت اشراف امريکا درحقيقت پشت پازدن به آرمان فلسطيني ها وسائيدن جبين ذلت به آستان آنهايست که ميخواهندسلطه شان در بيت المقدس ادامه يافته مسلمانان ازين سرزمين آواره وپراگنده شوند .اما جنبش اسلامي حماس منحيث پاسدار راستين بيت المقدس که خودرا به آزادي آن متعهد ميداند کلاً بااينگونه طرحها مخالفت نشان داده واعلان کرده که الي آزادي کامل بيت المقدس ازسلطه يهودها وتشکيل حکومت اسلامي درجوار نخستين قبله مسلمانان (قدس شريف) از مبارزه برحق خويش دست نخواهند کشيد.

عرفات دربدل تنازل وتن دادن بذلت وخواري دربرابر پروگرام هاي اسلام دشمنانه رژيم صهيونستي که هدف اضمحلال کامل مسلمانان رادرسرمي پروراند جز ننگون ساري وخجلت وبدست آوردن وجاهت کاذب ودروغين وکمايي خودمختاري نيم بند که بدون اذن وفرمان رژيم اشغالگر نميتواند کوچك ترين حرکتي را براه بياندازدچيز ديگرحاصلش نشده است .اگرچه عرفات بابلند پروازي هاي کودکانه که عادت هميشگي اوست گهگاهي اعلان مينمايد که بيت المقدس مرکز حکومت فلسطيني هاخواهدبود ولي درواقعيت اوباگزينش راه سازش وتفاهم بايهود هاسند محکوميت مردم فلسطين وقباله فروش بيت المقدس رابه دشمنان ديرينه مسلمانان امضا کرده است .

وضعيت عرفات درنوارغزه به محبوسي مانند استکه صلاحيت انجام هيچ کاري راانداشته وهرلحظه بايد از مرزبانان اسرائيلي اجازه ورود ودخول به غزه رادريافت نمايد .عرفات بااين کارخود نه تنها براي فلسطيني هاي محروم آزادي وآرامش به ارمغان نياورده وآنهارا اززيربارشکنجه وآزار يهودها نجات نداد بلکه باانتخاب راه غلط ونادرست وهوس رسيدن به رياست وجاه وجلال عملاً درصفوف مسلمانان فلسطيني دوپارچگي وافتراق ايجاد نموده وسيله تطبيق برنامه هاي دشمنانه صهيونيسم عليه مسلمانان گرديده است.

رژيم اسرائيل درصدد آنست که با وارد نمودن فشار و تهديد بر عرفات ودارودسته اش آنهارامجبور گرداند تادرضديت ودشمني باجنبش اسلامي حماس بپاخواسته فلسطيني هابجان هم بيافتند . اگرعرفات به ديکته هاي اسرائيل عمل کندودرسرکوبي فعاليت هاي مسلحانه جنبش حماس باعساکرصهيونستي همکاري بکند ممکن صحنه زندگي برايش تنگ ترگرديده اهميت خودرا نزدفلسطيني ها ازدست بدهد .

پلان غرب که قصد دارد اسرائيل درشرق ميانه دست بالاداشته وکشورهاي منطقه دست نگرآن باشند باامضاي معاهده ننگين غزه - اريحا بين رابين و عرفات که مشوق امضاي معاهده ديگري ميان اردن واسرائيل گرديده تقريباً استعمارغرب را درحصول اهداف موردنظرش درخاورميانه کامياب ساخته است .غرب مصمم است باگشايش باب تفاهم بين اسرائيل وکشور هاي عربي ازحساسيت ونفرت مسلمانان دربرابر يهودها کاهش داده براي برسميت شناخته شدن اسرائيل ازسوي دول عربي به عنوان حکومت قانوني درسرزمين فلسطين زمينه سازي کند .

براي جلوگيري ازسيطره يهوددرشرق ميانه وبخصوص سرزمين مقدس فلسطين ايجاب مينمايد که تمام کشور هاي عربي واسلامي ازجنبش اسلامي حماس که عزم واراده آزادي بيت المقدس وطرد يهودهارا ازحريم مسلمانان دردل بسته اند حمايت نموده،راه تفاهم وسازش بااسرائيل رامردود بشمارند .

حقوق سياسي زن در ...

غرض نشر بدفتر جريدهٔ نساء فرستاديم .

مع الاسف ادارهٔ جريده مطلب را درشماره بعدي اش منتشر نساخت و درعوض ضمن صفوريادداشتي يکمرتبه مسوده بودن و خوانا نبودن نوشته را دليل عدم نشر ذکرنموده است، يك سطربعدتر نوشته است که يادقتي که درمحتواي آن نموديم آنرا براي تنظيم زنان وجريده نساء اهانتبار يافتيم ، متعاقباً نوشته است که ازنشر آن معذرت ميخواهيم ودراخير اضافه نموده اگرمطلب در کدام نشريه ديگر بچاپ برسد ، جريده نساء درآن ايراد ومخالفتي ندارد .

اگر نوشته مسوده و خوانا نبود ، پس چطور درآن دقت نموده وآنرا براي تنظيم زنان اهانتبار تشخيص داديد!! اگر نوشته براي تنظيم زنان اهانتبار بود ، پس چرا ازنشر آن معذرت خواسته ايد !! زيرامعمولاً ادارات نشراتي هنگامي کلمه معذرت رابکارمي برند که درکارخويش اشتباهي رامرتکب شده باشند . وباز اگرمحتواي نوشته را براي تنظيم زنان اهانتبار تشخيص داديد ،پس چرا نشرآنرا درنشريه ديگر اجازه داديد . اي کاش که ازياد آن نقد ناآگاهانه وا ين يادداشت سراپا تناقض درس عبرت گرفته باردیگر هواي نقد را درسرنپرورانيد واگرنقد گرديد ، جرئت مطالعه و نشر نقد ديگران را هم داشته باشيد.

اعلان

دتنظيم طلبهٔ علوم ديني اداره خپل مربوط دحديث دوري اوحفظ القرآن ټولو فارغينوته چي سږکال فارغيږي اوياپه مخکي کلونو کي فارغ شوي،خبروركوي چي دخپلوتقديرنامودترلاسه کولو لپاره دي دري قطعي عسکونوسره دلړم دمياشتي له لومړۍ نيټي تريوولسمې نيټي پوري دتنظيم طلبه علوم ديني دفترته تشريف راوړي .

پته : شمشتو - نصرت مينه - دجامع جومات ترڅنګ دتنظيم طلبه علوم ديني دفتر .

دقوماندان امير...

نه استاذ سياف دخپلو مجاهدينو سپکاوي بدوګاڼه اونه په اتحاد کي بل داسي څوك پيداشوچي په دي هکله غوروکړي .هلته دجبهي په بل خط کي له ډيرصبراوتحمل نه وروسته حزب مجبور شو چي داتحاد مرکزونه له بندغازي نه نيولي ترازري پوري تصفيه کړي .داپيښه هم لويه وه اوددي لپاره بس وه چي داتحاد ويده راويښ کړي ؛ ځکه چي هغوي هرڅه دمسعود لپاره له لاسه ورکول ،مګرعبرت اخستني پرځاي ئي دمسعود دغچ اخستني ناروته لبيك روايه اوپه وردګ ميدان کي ئي داخترخوشالي په مجاهدينوغم کړه ، دمسعود خوبه يوه رامنده وه، بيرته به ئي ځان جبل السراج ته ورساوه اوبيا به داتحاد مرکزونه اوغونډونه يوپه بل پسي دفتني دمرکزونوپه حيث دحزب اسلامي له خواتصفيه کيدل. دي غميزو هم استاذسياف متوجه نه کړ، چي دچا لپاره اوولي اتحاد بيخ اوبنياد ووت ؟ په اتحاد کي داسي بله مقتدره مرجع نه وه چي داستاذمخه ئي نيولي واي، څوك چي وو هغوي دډيرښه اوارام شخصي ژوند خاوندان شوي وو،په دي ئي هاضمه نه خرابيده چي داتحاد په زړګونو مجاهدين دي دنظارشوري دسکتاريستي دسيسوقرباني شي، اتحاد نه بل تنظيم،دوي خوهسي هم دريالونو

په مينه اتحاد ته له نورو تنظيمونو راغلي وو .

داپيښي رواني وي چي دجنګ لمن شمال ته خپره شوه اويوځل بيا استاذسياف خپل قوتونه دمسعود خدمت ته وګورمارل چي په دي لړکي داتحاد مشهورقوماندان اميرمحمد هم په کندوزکي دائتلاف ملګري شو خوامير په شيرخان بندروروخوت اوهغه ئي ښه په نړه ونيو،داهغه وخت و چي دوستم لادرباني بچه خوانده و اوشيرخان بندر هم امير له نوموړي نه نيولي ؤ،نودقوماندان امير جګه شمله استاذ رباني بيرته ددوستم په پښو کي کيښوده اودعذراومعذرت لپاره ان چي مزارته ورغي داسي برښيده چي استاذ سياف دخپلوائتلافي ملګروهيڅ بد، بدنه ګڼل نوبه دي شرمولو هم چوپ پاتي شو.له بله پلوه کله چي دحزب قوتونو کندوز ونيونوامبرته ئي ديومجاهد قوماندان په سترګه وکتل اودهغه داوږده جهادي تاريخ په درناوي ئي دهغه قوتونه خلع سلاح نه کړل اودمجاهدو وروڼوپه څيرئي ترڅنګ وساتل . دامسئله هم ددي لپاره کافي وه چي داتحادچلوونکي په دي وپوهيږي چي له حزب اسلامي سره ئي دمتقابل احترام په فضا ، کي کورکيري اوتوريابد دملت اوجهاد ددښمنانو په لاسونوکي ونه لوبيږي ، خوچاته ئي وائي؟ په کندزکي دامير پاتي قوتونودپنځم ستون په حيث کاروکراوچي کله ائتلافيونوله بهرنه حمله وکړه ، نودوي ورسره له داخل نه ملګه شول اوکندزبيرته دائتلاف لاس ته ورغي . اوس نووخت راغلي ؤ چي مسعود،استاذسياف ته ددي خدمتونوبدل هموورکړي نوئي له نورو ولايتونوراوستي دنظارشوري افراد په مهمو وظيفو مقرراو دقوماندان امير له لاسه ئي هرڅه وويستل چي وبيل کيږي خبره برخوردونو ته هم ورسيده .

امير چي پخپله اشتباه پوه شو نويوځل بيائي دحزب مسئولينواوقوماندانانو ته مراجعه وکړه خواوس موقع له لاسه وتلي وه داهم ويل کيږي چي امير استاذ سياف ته ځوځلي ځواب راليږلي ؤ چي له نظارشوري سره زما ګوزاره نه کيږي ، څه وکړم ؟ هغه به ورته هميش همدايوځواب ورکاوه چي هرڅه کوي اوهرچيري ځي خوحزب ته به نه ورځي دمسعود استخباراتي شبکودقوماندان امير تماسونه اوله حزب اسلامي سره خبري هغه ته ورسولي اوآمرصاحب چي دوباني زما کړي پاتي توري خاري کړيته » په اصل عمل کوي ،دهغه اسيردترور اروژني بندوبست وکړ چي څوارلس کاله له روسانوسره جنګيدلي وخوځتوي يې په وژنه نه وو بريالي شوي .

که څه هم امير دحزب په مقابل کي دريدلي ؤ،خوديو مسلمان په حيث دهغه داډول وژل غمونکي بولو، کاشکي اميرله روسانوسره په جهادکي شهيد شوئ واي،دامير داډول پاي هيڅ مسلمان نه شي زغملي ، اوس هم لا وخت تيرنه دي، استاذسياف دي دخداي (ج)په خاطر ،دالحاد دآيندي په خاطر ،اودخپل ځان په خاطر دائتلاف لومي وشلوي اوځان دي تري خلاص کړي، چي ژبه تالو ته نه وي رسيدلي دتوبي ټمبي بيرته وي ددي ملت ددردونو اورنځونو دپاي لپاره بايد استاذ سياف يوتاريخي ګام پورته کړي ، ګني نوالحادته هيڅ هم نه دي پاتي ، دکومو قوتونو له امله چي استاذ سياف دمسعود په وړاندي اهميت درلود ، هغه يو په بل پسي خاوري ايري شول اوداسي ورځ راروانه ده چي بيابه دمسعود په دربارکي داستاذ سياف دملاقات لپاره څوځليقي وخت هم نه وي.

خواږه ترخه

که نرئي مال وګټه مال!!

محمودي

ريښتيا خبره ده چي زموږ په ټولنه اوجامعه کي دمال اودولت ډيرقدر،اوپوره رواج دي که دمال اودولت سره څنګ کي ګوم داښتن اوټويلك هم ولري نوبيا خو ...

دلته پروفيسر، ډاکتر، انجنير اوپوهان هغه څوك دي چي لستوني ئي غوړاوجيب ئي ډك وي .دامهمه نده چي مال ئي له کومه اوپه څه ډول لاسته راوړي خوچي مالداروي اوزموږ مالدار، اوشتمن خوډيرزړځانونه هم ښائي ځکه دستي په (پچه دربېږي اوکشميرګوروي)بابه ئي دګروي خيالات وي اويا دسوده ، خولنډه داچي تشي پښداي .

زه خپل ځان هم تشم سپينولي دهرچانه ددولت اومال زيات مجنون يم داچي چل نه راځي اويامي وسه نه کيږي دابيله خبره ده . ددولت اومال دګټلو لپاره ډيري لاري، چاري موجودي، دي. اوهرچاپه جدا، جدا اوبيلو. بيلو لارو وروسي مزلونه شروع کړي ، څوك لګيادي دخپل جنتي وطن هغه ځنګلونه چي ګڼه اوملي شتمني هم ده په ډيره بي هشي اوغلامي سره په اغيارو سوداکوي اودهمدوي محلونه اوبنګلي پري جوړوي .

څوك لګيادي دهيواد اووطن ملي سرمايه (معدنونه) په مختلفوطريقوڅمکي له خيټي څخه راوباسي،برمي اوسوونګي پرته دهمدي غرض له پاره ددون همتيږه لاسوکي دي اودهيواد ، داسرمايه (لعل - ياقوت زمرد اولاجورد) په پوره سپين سترګي لاسته راوړي اوبياني په ډيرو کمواناڅيزه پيسو دشخصي ګټولپاره پلوري څوك لګيادي دخپل تاريخي اوقديه اثارداجانبو په اشاره دخپلو موزيمونواوغونډيو څخه په ډيره پستي ترلاسه کوي اوډيري لري اوکسي تکه ماري لپاره ئي خپلو تاريخي دښمنانوته تحفه کوي څوك لګيادي ځانونه دنورودمذاهبو اوعنعناتوبيکارکوي،اوډير څوغيرانونولپاره ځانونه ديهوديت ، عيسويت ، مسيحيت او ...په جال اوچال کي نيري .

څوك لګيادي دنورو په مرګ اونابودي کي ددولت اوتوابي خوبونه ګوري شپه اوورځ دخپل ورور،عزيز اوتربور دوژني اومرګ بناکوي اوغواړي چي دخپل تربور او عزيز زامن اوسړي څنګه اوپه څه ډول ووژني ترڅوچي دوته ميرات شي .

اوچادخپلي حکمراني په پرده کي داسي غلوني شروع کړي چي څنګه وتوانيږي دباغوان، کارګر، ملازم، معلم اومامورودناچيزه اوبي ارزښته معاش دغلاوغصب لپاره زمينه سازي وکړي .اګرچي حتي ئي نوروهرينت اودکوالي په وجه دانقلاب حدته رسيدلي هم دي خوبيا هم دمال اودولت لوږه ئي له تنه نه ځي که داوي تيکي اوتراقل کومه خبره وي، نودستي به ... سپين سترګي ټيکه دارجوسي اودغريب ديجيږه ستوني ... پي کيږدي .

څوك لګيادي درشوت په تيره ... سره بيانې ... مظلوم ... وارثه ملت غوبني اوجيبونه پري کوي ولوکه ملت ئي له لوږي دمرګ په پوله ولاړهم وي .

اوڅوك په داسي سپستمونو ددنيا اودولت رنګين خوبونه ګوري چي خپل حلال مال ځانته حرام کړي او دجعل کاري او (ګهون) په ناوړه کاروبارکي ددولت دګټلوپه تکل کي شي .

هغه بله ورځ سهاروختي له کوره راووتلم وس غوښتل چي لاړشم اوداحمدخان اکا دناروغي پوښتنه وکړم خودلاري په اوږدوکي مي داسي څه وليدل چي ډير دردوونکي وو اوهغه داچي په دتکس په نامه موټرودراوه اوچايه داسلحي دتلاشي په نامه زماپه شمول نورهم ډير خلك دموټرپه باډي کي ناست و خودخلکودجملي څخه دوه ځوانانوچي متشرع قيافه اوقواره ئي هم نه درلوده په ډيره بي پروامرکه ئي شروع وکړه اول څوني يوبل ته وويل چي پلدي کبارموټرکي څه کوي بو وويل چي زما موټرمستري ته ولاړدي اوبل وويل چي زما موټريوه دوست واده ته بيولي . ددي نه علاوه به بي ګله وخندل اوګله به ئي دبوبل څخه په ورانه ټرك وبكه په موټرکي دوه ، دري ژبانه هم وي خومتاسفانه چي دي ګستاخانوهيڅ اداب مراعات نکړدلاري په تيماني کي ئي ددنيا اومال خبري شروع کړي ......

يووويل : مره سږکال مي دومره ګټه ونکره دنوروکلوپه نسبت لږه وه ، مخکي به مي په سوونولکه روپي ګټلي خوسږکال راپاندي شورا خرابي کړي .لاري بندي شوي اوچهارتراش ټول (خرڅ) نشول ايله ئي دارږ، مزدور،اوکرائي نه علاوه يوکروړافغاني وګټلي دير کروړداوريدو سره ورته حيران اوډير متوجه شوم دځانه سره مي وويل چي خدايه خير ...

دوهم ورته وويل : ياره څنا هم سږکال خوندنه نه وه ډيرتاوان مي وشو باروت پتاقي اونورمي هم ډير مصرف وکړ خوداسي ډير شي راته ونه ووت ډيرکم ياقوت اولاجوردمي لاسته راغلل ايله ئي دوه کروړه افغاني ګټلي وي.

ددوي ددي مرکي په مينځ کي يوعمرخوړلي سړي چي ښه شکلي اوسوچه ږيره ئي په مخ وه داسي وپوښتل : ځوانانوتاسوچي دا ځنګلونه اومعدنونه دشخصي ګټواوفايدو لپاره لوټوي داحرام اوناروانه دي؟ ددي پوښتني سره دموټرټول خلك متوجه شول. ځوانانودخپل برأت اخستلو لپاره داسي وويل : کاکاجانه دحراموا وحلالوکيسي پريږده که نرئي مال وګټه مال !!.

شهادت

ارګان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۸۵٤) سه شنبه (۳) عقرب ۱۳۷۳ هـ ش

الهي فرمان

هوا چاچي بدي وکړه اودهغه ګناهونو په هغه احاطه وکړه پس دغه کسان دوزخیان دي دوي به دتل لپاره په هغې کي وي چاچي ایمان راووړاوښه عمل ئي وکړ دغه کسان جنتیان دي دوي به په هغې کي همیشه وي
(البقره - ۸۲)

نبوي ارشاد

له حضرت انس (رض)نه روایت دي چي رسول الله (ص) وفرمایل: ډیوتربله اړیکي مه شلوي، شامه اړدي دبمنتي اوحسدمه کوي اواي دالله بندګانو! سره وروڼه شي دیومسلمان لپاره روانه ده چي خپل مسلمان ورور تردري ورځوزیات پریږدي .
(متفق علیه)

احکام دین خودرا بیاموزیم

داخترونو لمونځ

د کوچني اختریه ورځ عیدګاه ته دوتللونه وړاندي خوراك کول مستحب دي اوهم داچي غسل دي وکړي، خوشبوئي دي استعمال کړي اوښي جامي دي واغوندي اوسرسایه دي ورکړي اوبیا دي عیدګاه ته ولاړشي اوعیدګاه ته په لاره دي تکبیرونه وایي دامام صاحب په نزد اویاران (امام محمدؒ،امام یوسفؒ) وایي چي تکبیردي ووایي هسداراز داخترله لمانځه نه مخکي دي نفل نه کوي داخترد لمانځه وخت دلمرله پورته کیدو څخه ترزوال پوري دي خوکله چي لمرزایل شونوداخترد لمانځه وخت پاي ته رسیږي خلك دي امام پسي دوه رکعته لمونځ وکړي داسي چي دتکبیر تحریمي نه وروسته دي دري ځله لاسونه پورته کړي اوپه هرځل دي تکبیر ووایي بیادي الحمدلله اوسورة ولولي له رکوع اوسجدي وروسته چي کله دوهم رکعت ته پورته شونواول دي قرأت ووایي له قرأت نه تروزګاریدو وروسته اوله رکوع نه وړاندي دي بیادري تکبیره ووایي اوپه څلورم تکبیرسره دي رکوع وکړي .
(دوام لري)

نصيرالله بابربمعيت سفراى شش كشورخارجى باحكام محلي ادارهٔ ائتلافى درولايات جنوب غرب ديداركرد

اسلام آباد - ۲ عقرب :
وزیرداخلهٔ پاکستان نصیرالله بابر میګویدکه افغانها جهادراتنها به نفع خود ننموده اند بلکه به نفع تمام جهان نموده اند .
نصیرالله بابر که باراديوي امریکا صحبت مي کرداظهارداشت : طي مسافرت سه هفته قبل خود از ولایات قندهار،هلمند، هرات وکشورهاي ترکمنستان ، قرغزستان ، قزاقستان وازبکستان وچین دیدن نموده و ازطریق ګلګیت دوباره به پاکستان برګشت .
اوادعامیکند که دراین سفرازاحتیاجات این مناطق آګاهي یافته است .
وي افزود : نکته اساسي اینست که افغانستان بادادن تلفات جاني وخسارات مالي بیشمارنه تنها براي خود بلکه براي همه جهان جهاد نمودوحال جهانیان درآبادي این کشوربايد سهیم بګیرند .
ص (۷)

ديوماين د چاودني له امله دوه تنه مړه اوڅلور نورټپيان شول

جلال آباد - دلړم دوهمه :
دشهادت خبریال دبهي کوټ له ولسوالي نه خبرراکوي چي دغازي آباد ګړي په کلي کي پرون دورځي په لس بجودنډیرپه نامه یوسړي په کورکي هغه وخت یوسخته چاودنه وشوه چي دهغه اوه کلني لور دماین سره چي دلویو دسامان په شکل جوړشوي وو لوبي کولي ، اوپه نتیجه کي یې ماین منفجر اووسره په کورکي نوروپاروتوهم اورواخیست .
خبریاتوي ددغه انفجارله امله دنډیرسنجه اودهغه اوه کلنه لورځاي پرځاي مړه اوڅلور تنه نورچي دري ښځي اویوناریڼه ټپیان شول اوددغه کورودانی هم زیان منه شوه .
دیادوني وړده چي دروسانو اودهغوي دتالي څټو کمونستانو له خواپه ملیونونوداراززوژونکي ماینونه دلویو دسامان په شکل دهیوادپه ګوټ ګوټ کي شیندل شوي چي کله ناکله ددغسي دردناکي پیښي سبب ګرځي

داسمارولسوالی اود دانګام اوناړی دعلاقه داريو د اداري واحدونو لخوا یوه شانداره غونډه جوړه شوه

کنړ - دلړم دوهمه نیټه :
دکنړونودولایت څخه په رارسیدلي رپوټ کي ویل شوي چي دروان کال دتلي دمیاشتي په پنځه ویشتمه نیټه دکنړونو دولایت داسمار دولسوالي اوددانګام اوناړي دعلاقه داریو اداري واحدونواودتوموري سیموسپین ږیرو، علماو ،قوماندانانو یوه پرتمینه غونډه جوړه کړي وه .
په دغه غونډه کي لاندي کسان دموضوع په اړوند ارزښتناکي خبري وکړي .
۱- مولوي صاحب امان ګل دحزب اسلامي افغانستان ، ۲- مولوي صاحب فاتح محمد دجماعت الدعوة ، ۳- معلم ګل زرین دحزب اسلامي ، ٤- حاجي صاحب سلطان دجبهه نجات ملي ، ٥ - حاجي صاحب صالح محمد دحزب اسلامي ، ٦- خان جان دحزب اسلامي،۷- چړي ګل داتحاد ، ۸ - ملك محمد کریم ، ۹ - حاجي عجب خان دمولوی صاحب خالص دګوند، ۱۰ - حاجي محمدزرین دجبهه نجات ملي ، ۱۱- استاد تورخان دجمعیت .
نوموړیو په ګډه سره لاندي پریکړي کړي :
۱- ترهغې چي په افغانستان کي سوچه اسلامي حکومت قائم شوي نه وي غونډونه په ددغوولسوالیواوعلاقه داریو تراثرلاندي نه وي .
۲- دلاري پرسرټول پاټکونه داسمار،دانګام اوناړي په حدوداتوکي له مینځه وړل کیږي .
دغه شوري به پنځه ورځي وروسته بیا غونډه کوي اودننګرهار دولایت په خبر به شوراته خپل غړي معرفي کوي .

دننګرهار په ولایت کی :

دسیدجمال الدین درفاهی موسسی دلومړی دوری" فارغانوته بری لیکونه ورکړل شول

ننګرهار د لړم لومړي نیټه :
دشهادت خبریال دننګرهار ولایت دسید جمال الدین د رفاهي موسسي له دفتر څخه خبرراکوي چي نن ددغي موسسي په انګرکي دلومړي دوري فارغانو ته دبري لیکونو دویشلو له امله یوه شانداره غونډه جوړه شوي وه .
غونډه د ورځي په یولس بجو دقاري صاحب علي محمد حنیف دقرآن عظیم الشان دځومبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه .
پدي غونډه کي ګن"شمیرښاریانو، خبریالانو اودبهرنیوموسسو نمایندګانو ګډون درلود .
دغونډي په پیل کي دسید جمال الدین درفاهي موسسي رئیس محترم وروو حاجي غلام دستګیرخان د حمد اوثنا وروسته دفارغ شویوشاګردانو مسؤلیتونه وربه ګوته اودخپلو خبرو په ترڅ کي یې ددغي موسسي په فعالیتونو رڼاواچوله . حاجي صاحب زیاته کړه په دغه موسسه کي په دریو بخشونو کي لکه ویلډنګ کاري . نجاري اوګلکاري کي شاګردان روزل کیږي د دوي تولة تعلیمي دوره شپږمیاشتني ده چي په دغه دوره کي شاګردان زمونږ دتولني دخدمت کولو مصدر ګرځیداي شي . حاجي صاحب وویل زمونږ دارنګه کورسو نه په پیښور اودهیواد په زیاترو ولایتونو کي جریان لري اوپه دوویشتونو مو تقسیم کړي چي یوه برخه یې په مسلکي زده کړواویله برخه یې د سواد آموزي اودیني زده کړي لپاره ټاکل شوي چي د مجربو استادانو له خواورته درس ویل کیږي.
خبر یال زیاتوي چي حاجي صاحب غلام دستګیر خان وویل : ددغي موسسي دداراڼګه کورسونو د فعالولو څخه مطلب دادي چي زمونږ دهیواد بچیان دمسلکي زده کړو ترڅنګ دسواد اودیني علومو څخه هم برخمن شي . له هغي وروسته دوغه کورس پواستاد محترم مولوي صاحب محمود ددغه کورس دمسلکي زده کړو ترڅنګ ددیني او سواد آموزي دزده کړي ستاینه وکړه اودحاجي
(۷)مخ

جنوبی کوریا دکلنتن ویناغندلی اوردکړی ده

کوریا -دلړم لمړي نیټه :
جنوبي کوریا دامریکا دجمهوررئیس کلنتن داوینا ردکړي ده چي وایي دامریکا اوشمالي کوریا داتومي پروګرام دموافقي دیوي برخي په توګه به جنوبي کوریاشمالي کوریا ته دسونګ دموادومصرف ورکړي .
دجنوبي کوریا یوه نطاق وویل واشنګټن هیڅ وخت دسیول څخه نه دي غوښتي چي ددغي موافقي په لګښتونوکي برخه واخلي اودجنوبي کوریا حکومت په دغه برخه کي هیڅ ډول ژمنه کړي نه وه .
داتومي پروګرام ددغي موافقي په اساس باید امریکا اودهغي متحدین په شمالي کوریاکي اصلي اتومي ریکتر مصرف ورکړي .

عراق ته دایرانی هیئت تلل وځنډیدل

تهران - دلړم لمړي نیټه :
عراق ته دایران دیوه هیئت تلل په وروستیوشیبوکي له ځنډسره مخ شول له تهران نه په خپره شوي یوه اعلامیه کي ددي کاردلیل نه دي ښودل شوي اعلامیي ویلي چي ددغه هیئت تللو ته به یوه بله نیټه وټاکل شي .ټاکل شوي وه دغه هیئت نن دبغداد په لوري روان شي چي دایران دبهرنیوچارودوزیر علي اکبرولایتي دسفرترتیبات ونیسي ولایتي هغه مهال(شپږکاله دمخه) چي دایران اوعراق جګړه پاي ته ورسیده دالمړي ځل دي چي عراق ته سفر کوي.
په دي وروستیوورځوکي ایراني مشرانو پرعراق سخت انتقاد کړي چي امریکاني دي ته وهڅولوچي په سیمه کي خپل پوځي حضورلاپسي پیاوړي کړي .

دتاجکستان دحکومت اواسلامی نهضت ترمنځ خبری اتری به لس ورځی نوری هم دوام وکړی

اسلام اباد - دلړم لمړي نیټه :
دتاجکستان دحکومت اواسلامي نهضت ترمنځ خبري اتري چي دپاکستان په مرکز اسلام آبادکي جریان لري پرموقت اوربند دیوګډ کمیسیون دجوړولو موافقه کړي .
دغه اوربند چي په هغې بوري اړوند مواصفات دتهران په خبرواترو کي لاسلیك شوي دي .
خبریاتوي چي دتیري پنجشنبي دخبرواترو دددیم پړاوله پیل سره عملي شوي .
دتاجکستان په چاروکي مخالفانواودحکومت استازیو په دوه ګډوکمیسیونو دکاردځرنګوالي په باب داسلام آباد دخبرواترو په بهیرکي موافقه کړي اوددهغي دجوړښت له پاره دتصمیم نیولوپه حال کي دي . په دي کمیسیون کي به له دواړو خواو څخه پنځه ، پنځه استازي ګډون کوي دتاجکستان په چارو کي دملګروملتوخاص استازي چي دتیري شنبي په ورځ ئي دتاجکستان حکومت اودمخالفانو د نمایندګي
(۷)مخ

داسرائیلی عسکرو د درندو وسلو دډزو په نتیجه کی :

څلور تنه فلسطینی مسلمانان شهیدان اوڅلور نورټپیان شول

بیروت - دلړم لمړي نیټه :
دحماس اسلامي مقاومت غورځنګ پرون په بیروت کي دیوي اعلامیي په خپرولو سره ټینګارو کړي چي دصهیونست رژیم له بندڅخه ددغه غورځنګ دمشرشیخ احمد یاسین اودنورو فلسطیني بندیانوترخوشي کیدوپوري به ددغه رژیم پرخلاف خپلو عملیاتو ته دوام ورکړي .
په اعلامیه کي ویل شوي چي حماس دشیخ احمدیاسین اودنوروبندیانودخوشي کولوله پاره له خپلوامکاناتو به استفاده کوي .
حماس په دغه اعلامیه کي ویلي چي دقدس غاصب رژیم به په دي لري کي دیر زیات زیانونه وګالي اوله دي وروسته به داسلامي جنګیالیو دمقاومت توان ونه لري .
خبریاتوي چي صهیونستي پوځونورخپلو غیرانساني اقداماتو کي دتوپونواودرنووسلو هدزوله امله څلور مسلمانان شهیدان اوځلورتنه نورټپیان شول .

امتنان

ازهمکاري بي شائبه و همیشګي برادرمجاهد الجنیر رحمت الله درترمیم ماشین فوتوستیت دفتر روزنامه شهادت اظهارسپاس نموده و ازخداوند بزرګ براي ایشان اجر دارین رامسئلت مي نمائیم .
«اداره»

دفاتحي اعلان

حاجي یارمحمد حاجي پلار ،عبدالرشید،عبدالولي او سید مالك حاجي وروڼه .
حاجي عبدالمحمد، حاجي ګل محمد ، حاجي حسین جان ، حاجي عبداللطیف اوګل رفیق حاجي ترونه .
حاجي همیشه ګل اوزمان خان حاجي دترور میرونه .
عبدالروف ،خوشحال،عبدالرزاق ،یعقوب، عبدالمجید، عبدالباقي ،عبدالوکیل ،عبدالبصیر، ناصر اوکچکول حاجي دتره ځامن .
حاجي ولي محمد حاجي، پادشاه ګل ،قمرګل،عمراخان ،فیروزخان ، زمان ګل،دننګرهار دطب پوهنځي محصل نوروزخان حاجي ترورځامن .
دشهید عبدالمالك حاجي دمړیني له کبله دوستانوته خبرورکول کیږي چي دمرحوم جنازه پخوابه پلارني هدیره کي خاوروته سپارل شوي او دتاریتوفاتحه ئي دجمعي په ورځ دعقرب په شپږمه نیټه دسهارله ۸ - ۱۱ بجوپوري دجلال آباد دباغ امیر شهید په جامع جومات کي اودسبځوفاتحه په ریګ شااحمد خان کي دحاجي یارمحمد حاجي په کورکي دیوي ورځي لپاره اخیستل کیږي .

شهادت
بیانګرعقایدوآرمان‌هاي‌حزب‌اسلامي‌افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : الجنیرحکمتیار
ناشــر: ریاست ارشاد وفرهنګ
تحت نظر هیئت تحریر
آدرس : جلال آباد چکتوري
حساب بانکي : ۸٥۲٦٤ دافغانستان بانك
تیلفون : ۲۹۲٦
آدرس پستي : ۱۰۳٦ یونیورسټي ټاون پشاور

مژده مژده مژده

اشخاصیکه خواهش مسافرت به شهر هاي الماتا، تاشکند ،مسکو ،وارسال کارګو به سایرکشورها راداشته باشند ،جهت معلومات به دفتر غازي تریول ایجنسي مراجعه نمایند .
آدرس : غازي تریول ایجنسي ، مراد پلازه ، جمرود رود ، ایستګاه تمبوان ، شهرپشاور ، تلیفون (۸٤۲٤۲۳) فاکس (٤۰٥۳۷)

اعلان

اخیرأیك دارالمعلمین عالي در چوکات ریاست تعلیم وتربیه حزب اسلامي افغانستان افتتاح ګردیده وتوسط استادان ورزیده ومجرب تدریس میګردد .
علاقمندان میتوانند همه روزه ازساعت ۸ صبح الي ۲ بعدازظهر جهت ثبت نام به آدرس ذیل مراجعه نمایند .
آدرس : کوچهٔ نعمت محل - دانش آباد - تعمیر لیسهٔ عالي ابوایوب انصاري (رض)
(۱-۳)

اعلان

حاجي وردګ ترانسپورت دونوع قیر ۷۰ / ٦۰ و ۷۰ / ۱۰۰ رابه مقدارکافي ازکراچي به پشاوروجلال آباد واردنموده،وبراي متقاضیان به قیمت مناسب عرضه میدارد . اشخاص وموسسات دولتي وغیر دولتي اي که ضرورت داشته باشند درپشاور به آدرس حاجي وردګ ترانسپورت واقع چغلپوره ودرجلال آباد به موترفروشي اتفاق متصل پل « ژاندارم» مراجعه نمایند .
جهت معلومات بیشتر باتلفون نمبر (۲٥۳٦۸۲ پشاورتماس بګیرند .
(۲-۳)

اخبار کوتاه جهان

رئیس جمهور اوکراین دراولین مسافرت خویش به غرب امروز جهت جلب معاونت هاي پولي عازم کاناداشد .
وي طي بازدید پنج روزه اش ازکانادادریك کنفرانس خاصي که ازطرف جاپان وګروه هفت ترتیب میګردد شرکت خواهد کرد که درموضوع کمك بااوکراین ترتیب یافته است .
***
دامریکا جمهوررئیس کلنتن ویلي دي په راتلونکي اونۍ کي ددي له پاره منځني ختیځ ته حئ چي دخپلو هڅودوستانوترڅنګ ودریږي چي دسولي دراوستلو له پاره ئي ډیرلوي خطرونه پرځاي منلي .
دي به داسرائیلو اواردن ترمینځ دسولي دتړون دلاسلیکولوپه وخت کي حاضر وي اودسوریي له جمهوررئیس سره به هم وګوري .
***
اردوي رژیم صهیونستي درتازه ترین اقدامات غیرانساني وتجاوزکارانهٔ خودمناطق مسکوني جنوب لبنان راهدف آتش باري سلاح هاي سنګین وتوپخانه قرارداد .
به ګزارش خبرګزاري ایران طي این ګلوله باران که درمنطقهٔ نبطیه ازشدت بیشتري برخورداربود ، حداقل چهار نفر شهید وچهارتن دیګرمجروح شدند .
***
ناتواوملګروملتونو په بوسنیا هرزوګوینا کي دیوځي ټاکتیکونوپه برخه کي موافقه کړي ده .
ناتووایي ملګري ملتونودناتوداغوښتنه منلي ده چي وایي که چیري دملګروملتونو پرسوله ساتونکو قواوباندي حملي وشي اوبیادوسلو دبندیزدمقرراتوڅخه سرغړونه وشي تودسرغړونکوپه مقابل کي به سخت اقدامات وشي .
***
سازمان ملل ودولت بوسنیا روزیکشنبه موافقه کردند که پنجصد عسکربوسنیاتي ازظهر روز عقب نشیني ازیك منطقهٔ غیرنظامي نزدیك سرابیو را آغازکنند .
به ګزارش رویتر مقامات بوسنیا باتائید این خبرګفتند آنها همچنین موافقه کرده اند که براي بهبودشرایط امنیتي درجادهٔ اصلي منتهي به سرابیو که زیرآتش صربهاقراردارد ملاکراتي انجام دهند .
***
دکولمبیا حکومت دپولیسو دملي قوي دیوې لویې تصفیي په ترځ کي دهغه هیواد دپولیسو څه له پاسه سل تنه صاحب منصبان دمخدره موادو دقاچاقبرانوڅخه درشوت اخستلوپه ګناه له کاره برطرفه کړي دي ددغه هیواد ددفاع وزیر یونیروزي پردغوصاحب منصبانوباندي تورلګولي چي دکالي دالحادیي سره چي دنړي دمخدره موادودقاچاق براتوترټولو قوي موسسه ده همکاري کوي .
***
دامریکا جمهوررئیس کلنتن دخپل ګوندکاندیدانودپاره انتخاباتي مبارزي ته دوام ورکوي داسي پیشبیني کیږي چي دده ګوندبه په راتلونکي میاشت کي دکانګرس له پاره په انتخاباتو کي خیني چوکي له لاسه ورکړي نوموړي کلیفورنیا ، اوهایو اوواشنګتن په ریاستونوکي انتخاباتي مبارزه پیل کړي ده .

دسرمقالي پاتي برخه

زیات دي، خوږیې کولي شول،دیوه جلوس اومارش په صورت کي ئي دلوګر ولایت ګردپاټکونه له منځه ویوړل . حکمتیار دجهادي قوماندانانو اودلوګرولایت دوالي اوګردومنسوبینوپه مشوره دیکشنبي په ورځ دلرم دمیاشتي په یوومې نیټه له چاراسیاب نه دلوګرپرلوررهي اودلاري پنځه ویشت پاټکونه یې لیري کړل،اوپدي توګه یې له سفیلسنګ نه نیولي دالتموروتردبنتي چي دلوګر سرحددي،ټول پاټکونه پاك اوسړك یې دوطنوالو لپاره له دغي مهلکي ناروغي نه وژغوره . پرسړك تلونکي راتلونکي عام ولس اوسوداګرچي له دغي پیښي نه خبر شول، دخپلواحساساتو دڅرګندولو لپاره یې دهروران شوي پاټك پرسرداسي چغي وهلي،ژوندي دي وي حکمتیار ، همداراز دلوګر ولایت مسئولینو اومنسوبینو یوځل بیاله حکمتیار سره ژمنه وکړه ، چي هیڅوك له دي وروسته حق نه لري،چي دسړك په شاوخواپوځي پوستي جوړي کړي.پدي باب له حکمتیارسره دولایت اوسیمي ګن جهادي شخصیتونه ،داحمدزیو دقام شورا استازي دلوګروالي اوځیني نورخلك ملګري وو.دپاټك وړانول ، په اوسني وخت کي څکه لویه پیښه ده ، چي ځیني قوماندانان نن سباله همدي لاري نه ځان اکمالوي. زمونږ زوریدلي ولس پدي خبردي،چي دنظاردلګي په کابل کي حومره خودسره اولیوني ده ، چي دکمونستانو په مرسته یې حتي صرافان هم تالاکړل،په اصل کي دابومشکل دي، اوهغه تریك لرونکي چي کوم تعهد نه لري په همدغي ګیډیف چوراوچپاول سره راغونډشوي دي،اوکه دغه ږیره دلړ وخت لپاره هم له منځه لاړه، نه به بیا دخپلو خلکو پوځونه وي اونه پاچاهي .خودا حکمتیاراوحزب اسلامي دي، چي خپل مجاهدین پداسي ذلیله لاره نه تطمیع کوي ، او دملت دګټولپاره هري سرښندني ته هروخت تیاري لري .دابوه نیکه اومبارکه پیلامه ده ، اومونږعقیده لرو،چي که دافغانستان په ګردولارو دغه اصول تطبیق شي، مجاهدملت به له دیروستونزو وژغورل شي. په همدي ډول به سوداګران دوړلو راوړلولپاره تشویق ،نرخونه به ټیټ اودځینوضروري شیانو دکمست ویره به له منځه لاړه شي . مونږ پداسي حال کي چي دحزب اسلامي دامیر داکارله مجاهد ملت سره خواخوږي ګڼو،پدي عقیده یو،چي مجاهدملت هم له حزب اودهغه له مجاهدقیادت نه همداسي هیله لري، اودتحریك هغه تصامیم اومواقف یې په نظرکي دي،چي دجهادله پیله لاتراوسه دیبلابیلو مراشعواوپیښو په باب یې نیولي اوراتلونکي لپاره هم تري همداسي کیدلي شي .